# افلاطون او د ټولنیز عدالت



نورمحمد غفوری

- «خپله دنده پر وخت سرته رسول او ورته ژمنتیا عدل دی»
- «ښه نظام د ښو لوستو خلکو پرمټ جوړېدای شي »
- «د ریاست ښه صفت، ښیګڼه عدل او انصاف دی»
- «په ریاست کې عدل او انصاف هغه وخت راتلی شي، چې لوړپوړي چارواکي له علم او پوهې نه کار واخلي»
- «د ښځې او نر تر منځ په انساني لحاظ هیڅ توپیر نشته، له ښځو او نارینه وو باید د حکومت کولو په چارو کې په کډه کار واخستل شي»

افلاطون د ټولنیز سیاسی نظام او په هیواد کې د ټولنیز عدالت په اړه ډېرې په زړه پورې طرحې لری. دده په طرحو کې د دولتي واکمنانو پوهه، پاکی او انصاف لوړ ځای لری او د ټولنیز پرمختګ له پاره د عدالت شتون اړین فکتور بولی. د افلاطون په نظر تر هغه چې «فیلسوفان واکو ته ونه رسیږي او یا واکمن فلسفي نه وي، تر هغې د ریاست او د ولس ستونزي نه حل کیږی . . . د کوم ریاست حکمران، چې فلسفي نه وي، د هغه ریاست پر بنسټ اعتبار نه دی پکار» که د حکومت واګې د فیلسوفانو او پوهو کسانو په لاس کې ولویږی، د ملت له پاره ستر خدمتونه کولای شي، ځکه چې پوه کسان او فیلسوفان د ملت ګټې له خپلو شخصي ګټو څخه لوړې



www.esalat.org

بولی، ریاست د حکم د چلولو او د پیسو او د شتمنیو د راټولولو له پاره نه غواړي او د ټول ملت په خیر او د عدل او انصاف پر بنسټ ولاړ ټولنیز نظام را منځته کولای شی.

د علم او پوهې څښتن واکمنان عادل، انصافمن، زړه ور او غیرتی وی او په دولت کې د غلا، بدو اخیستلو او نورو ټولنیزو فسادونو په ضد د مبارزې لاري لټولای او موندلای شي. په حکومت کې باید بې علمه او بداخلاقه کسان لار ونه مومی، ځکه چې که «یو کس غل، بد فعله او بې عدالته وي، په ټول ریاست باندې بده اغیزه ښندي» د ریاست واکمن باید پوه او با شخصیته خلک وي. دغه ډول پاک زړي کسان کولی شي چې ښه حکومت وچلوي؛ جهالت او خود غرضي له منځه یوسي، «ځکه چې دا ډول خلک انسانیت ته ژمن وي. دوی په ډیر امانت، ایمان او دیانت خپل کارونه سرته رسوي، دا ډول خلک د بې ځایه دود دستور نه آزاد وي.» د افلاطون نظر دادی چې د حکومت واکې باید د کومې ځانګړې ډلې په لاس کې نه وي، ځکه چې «ریاست د ټول ولس ګډ کور دی او ساتنه یې په ټولو یوشان فرض ده. همدغه د ریاست د اعتدال مانا ده، ځکه چې د ریاست ښه صفت، ښیګڼه عدل او انصاف دی. له دې صفت نه باید ټول برخمن وي.

په ریاست کې عدل او انصاف هغه وخت راتلی شي، چې لوړپوړي چارواکي له علم او پوهې څخه کار واخلي، د عدل او انصاف په خاطر فوځ هم د ریاست لپاره هر ډول قربانی ته تیاریږي.»

افلاطون پوهې او ښو اخلاقو ته د انسان په شخصي او ټولنیز ژوند کې ډیر ارزښت ورکوی او وایي چې که عادل او د ښو اخلاقو څښتن د حکومت په اداره کې برخه واخلی او یا د



www.esalat.org

عادی انسان په خیر په ټولنه کې ژوند وکړی، نو په هغه باندې ټول ښار په ښه نامه یادیږی او داسې کسان ذاتاً خپلو خلکو او ولس ته ژمن وی، د خپلو ملګرو سره غداری نه کوی، غلاوی او بې انصافی نه کوی. پوه او عادل کسان پخپلو وعدو ولاړ وی، خپل قسمونه نه ماتوی او دا ځکه چې دا ورته ستر اخلاقی جرم ښکاری. د پوهو او د ښو اخلاقو څښتنو کسانو سره هم د ځان د عزت د ساتلو فکر وی او هم د بل عزت او وقار ته درناوی کوی؛ د لویانو احترام کوی او په کشرانو شفقت لری. هر انسان ته د هغه له شتمنی د اندازې له په نظر کې نیولو پرته په درنه سترګه ګوری. افلاطون په دې نظر دی چې د پوهې او ښو اخلاقو څښتن «که په خپله د هر مذهب پلوی وي، خو د خپل ښار خدمت ته ژمن وي او د خپل ریاست وقار په پام کې نیسي؛ سرکاري مذهب ته زیان نه رسوي او نه ورنه سرغړونه کوي اونه ورسره خیانت کوي. دا ځکه داسې کوي چې دا د عدل غوښتنه ده.»

عدالت د افلاطون له نظره یوازې خپلو اړوندو کارو ته چې د خپل طبیعی استعداد او مینې سره سم یې ټاکلی وی، د ملت د وګړو چمتو والی او په هغو کې بوختیا ده. دا ښه عدالت دی چې هرڅوک خپل کار ښه سرته ورسوی او د نورو په ژوند او کارونو کې مداخله ونکړی. له مداخلې څخه نه یوازې نوموړي ته زیان رسیږی، بلکې ټولنې ته زیان رسوی. په هغه څه کې چې مسلک یې نه وی، ځان لوړ ونه ښئی، غیبت ونه کړی او په شخصی او ټولنیزو چارو کې د نورو د عیبونو په لټولو او بیانولو پسې ونه ګرزی. بې عدالتی هغه وخت رامنځته کیږی چې د دولت له خوا د ورسپارل شوو دندو پولې په نظر کې ونه نیول شی. عدالت هغه دی چې هر چاته د هغه سره وړ معامله وشی، «له دوستانو سره نیکی او له دښمنانو سره بدی وشی». د عدل او انصاف په اړه د افلاطون نظر داسې هم دی



www.esalat.org

چې «که هرشخص د قانون په چوکاټ کې خپل فرض په ښه توګه ترسره کړي، نو نور هم له دغه انسان څخه زدکړه کوي او هغوی هم خپل کارونه په ښه توګه ترسره کوي ځکه، چې انصاف د یوه عهد نوم دی هغه هم د نه لاسوهنې عهد.»
افلاطون لکه څنګه چې د نورو ټولنیزو ډلو ترمنځ د وروروولی او انصاف پلوی ؤ، په دې باور هم ؤ چې «ښځو ته دې د نارینه وو په څیر برابر حقوق ورکړل شي او له نارینه وو سره دې په یو ځای د کار کولو اجازه ورکړل شي، همداشان ښځو ته دې هم د نارینه وو په څیر د تعلیم حق ورکړل شي... که مو ښځې له پامه وغورزولې، داسې فکر وکړی چې د ریاست نیمه برخه مو له لاسه ورکړه؛ د ښځې او نارینه تر منځ په انساني لحاظ هیڅ توپیر نشته؛ له ښځو او نارینه وو څخه باید یو ځای د حکومت په برخه کې ګټه واخستل شي او ددې تر څنګ له ښځو څخه د فوځي انتظام په برخو کې هم کار اخستلی شو؛ ښځې باید ۴۰ کاله او نارینه ۳۰ کاله کار وکړي. افلاطون به ویل، چې نارینه او ښځینه دواړه د تعلیم حق لري، دواړو ته باید په یوه سترګه وکتل شي او دواړو ته باید په یو ډول حقوقو قایل واوسو.

افلاطون د اولاد(ماشومانو) په ګډه روزنه ټینګار کړی او په دې نظر دی چې ماشومان هم د پیسو او نورو شتمنیو په شان د ټول ملت او دولت ګډ ملکیت دی. د افلاطون په نظر زده کړه د فرد او ټول ملت د متوازن او سم انکشاف له پاره خورا اړینه ده. افلاطون وایي «ښه نظام د ښو لوستو خلکو په مټ رامنځته کیدای شي، ځکه چې پوهه په انسان کې ټولنیز شعور پیدا کوي، نو کله چې په انسان کې ټولنیز شعور پیداشي نو انسان خپل ټولنیز مسئولیتونه پیژنی او په ښه توګه یې ترسره کوي.»


www.esalat.org

د افلاطون په نظر په اشتراکی حکومت کې ټول افراد په حقیقت کې سره ورونه دي. ټولو کوچنیانو ته به په یوه سترګه کتل کیږی، یو ډول تعلیم به ورکول کیږی او ټول به په یوه دسترخوان ډوډی خوری. دلته قومی، ژبنی، دینی او محلی توپیر او امتیاز رول نه شی لوبولای. دولت ته د افرادو د شخصی ژوندانه (د خپل کور د شکلا، د جامو د ډول او غوستلو او نور) په چارو کې د مداخلي حق نه ورکوی؛ خو دولت به څارنه کوی چې افراد د خپلو شخصی اهدافو د لاسته راوړلو پر وخت بل چاته زیان ونه رسوي. د افلاطون د ښووني او روزني د پلان سره سمه د کوچنیانو «په ښوونه او روزنه کې جسماني ورزش او موسیقي شامله وه، جسماني ورزش ددې لپاره، چې د ماشومانو په جسم کې تناسب پیداشي او موسیقي ددې لپاره اړینه ده، چې د ماشومانو د روح او جسم همغږي برقرار وساتي.... څوک چې له موسیقي سره بلد نه وي، پر هغو باندې هیڅ ډول اعتبار نه دی پکار؛ ځکه چې د موسیقی نه د ناخبرو خلکو جذبات غیر متوازن وي، د موسیقی مانا همغږی ده، نو په همدې پار موسیقي د هر فرد لپاره اړینه ده»

افلاطون د هیواد د امنیت او ځمکنی تمامیت له پاره د دفاعی او امنیتی ځواک د جوړولو په خاطر هم د کوچنیانو د روزنې په پروګرام کې ټاکلو تدبیرونو ته ځای ورکړی دی. سره له دې چې دی د جنګ او جګړو پلوی نه ؤ، خو په دې هم پوهیده چې «دښمن هغه وخت زړور کیږی، چې کله خپل مقابل لوری له ځانه کمزوری ووینې».

د افلاطون په نظر د عدل او انصاف له پاره هیڅ ډول جبر ته اړتیا نشته، ځکه چې دا هر څه په خپله سل په سلو کې د فرد په ګټه دي. «عدل او انصاف د انسان روح ته شکلا ښښي او



www.esalat.org

د بدی ناروغي يې له منځه وړي. کله چې د انسان روح تندرست او آرامه وي، نو خپل فرايض په ښه توګه ادا کوي. لکه څنګه چې د ښه صحت مند جسم لپاره مادي شيانو ته اړتياوي په همدغه اندازه د انفرادي خوښۍ او مسرت لپاره روحاني پاکوالی ته هم اړتيا ده، له همدې نه موږه ښه نتيجه اخستی شو، چې عدل په خپله عدل کوونکي فرد ته څومره په ګټه تماميږي.»

افلاطون د انسان په ارواکې درې عنصره وينی چې د جذبه، شهوت (اشتها) او عقل دی،. دی وايی چې «که خپل فرضيات پيرندل او پرځای کول عدل وي، نو بيا خو په انفرادي ژوند کې د روح درې عنصره هم بايد خپل کارونه په خپل ځای ترسره کړي او همدارنګه عقل، جذبه او شهوت دې هم خپل حدود وپيژني او په شخصي ژوندکي دې مناسبه همغږي او توازن پيدا کړي.»

افلاطون د هيواد وګړی هم د افرادو د روح د عناصرو له مخې په دريو طبقو ويشی. افلاطون د څمکې د کرکيلې دندده بزګرانو ته ورکوی او دا به هغه کسان وی چې دده د ښونيز پروګرام پر بنسټ له نورو کمې زده کړې کوی. ددې له پاره چې د انسانانو د ژوند مادی اړتياوې پوره شی، نو د هر څه ترمخه ښې ځمکې ته اړتيا لری چې ورپکې د کرهنې چارې پرمخ بوزی. په دوهمه درجه کې بيا بيلا بيلو فنی څانګو او کسبونو ته اړتياده چې د انسانانو د ډول ډول اړتياوو له پاره بيلابيل څيزونه او ارزښتونه توليد کړی.
دده په نظر د بزګرانو او کسبګرو ترڅنګ د هيواد د ساتنې لپاره پوځی ځواک ته اړتيا ده چې هيواد وساتی. دا پوځي ځواک (اردو) بايد عسکري علوم او فنون لوستي او ښه يې عملی کړی وی. «ددغې اردو لپاره جذبی عنصر بسنه نه کوي،



www.esalat.org

بلکې دوی باید په خپلو منځو کې د وریښمو په شان نرم او د دښمن لپاره د فولاد غوندې کلک عظم ولري»
دده له نظره بله طبقه د هیواد واکمنان دی چې تر ټولو زیات عقلی عنصر ته ډیره اړتیا لری او دده له نظره باید فیلسوفان وی. دده په نظر «ریاست څلور برخې لري: (۱) حکومت، (۲) شجاعت او زړه ورتیا، (۳) عفت او (۴) عدل. مخکنی دري برخې د دریو طبقو ځانګړې برخې دي یعنې حکومت د واکمنو لپاره، شجاعت د اردو لپاره، عفت یا د نفس ضبط د هنرمندې طبقې لپاره دي.... عدل د کومې ځانګړې طبقې لپاره مخصوص نه دی، بلکې دا د ټولو ګډ میراث دی... که ټول خلک په خپلو خپلو کارونو بوخت شي او خپل خپل کارونه په ښه توګه پرمخ یوسي، نو دغه وخت بیا په ریاست کې عدل قایم کیدای شي. خپله دنده پر وخت سرته رسول او ورته ژمنتیا عدل دی».

د افلاطون په نظر دا د دولت دنده ده چې د خپلو ښاریانو د پرمختګ او هوسا ژوند له پاره مناسب، وړ او مطلوب شرایط چمتو کړی، په ټول هیواد کې عدالت راولی او له هغو ځارنه وکړی. له دې کبله هغه ډیر په دې فکر کوی چې د خپل خیالی (اوتوپې) دولت له پاره تر ټولو ښه او ایډیال قانون طرحه کړی. افلاطون د ښو څیړنو او پلټنو د تر سره کولو له پاره د آتن په یوه برخه کې د (افلاطون اکادمی) جوړه کړه او له دې لارې یې د افلاطونیسم په خپرولو منظم لاس پورې کړ. د افلاطون معنوی میراثونو ډیر یهودی، عیسوی او اسلامی فیلسوفان په بیلا بیلا ډولونو تر اغیزې لاندې راوستل. ارستو هم چې په لرغونو زمانو کې د افلاطون شاګرد او د هغو د اساسی نظریو مخالف و، تر ډیره د خپل استاد تر اغیزې لاندې او د هغه له زیاتو مرستو څخه برخمن و.



www.esalat.org